## اعلامیه مطبوعاتي

**د سولې د عالي شوراد ریس پروفیسور برهان الدین رباني**
**د شهادت په اړه د پاکستان د سفیر ښاغلي محمد صادق پیغام**

د پروفیسور برهان الدین رباني شهادت نه یوازې د افغانستان لپاره ، بلکې د پاکستان په شمول د ګرد اسلامي امت لپاره یو نه جبرانېدونکې ضایعه ده . همدارنګه د نوموړي شهادت دیو ستر شخصیت ضایعه ده چې ما ورته ډېر احترام درلوده او هر وخت یې پر ما مهرباني کوله .

پروفیسور برهان الدین رباني د پاکستان یو نږدي ملګری وه . زمونږ اړیکه د پروفیسور برهان الدین ربان سره هغه وخت پیدا شوه ، کله چې نوموړي د نورو جهادي رهبرانو سره یو ځاي د پخواني شوروي اتحاد دیرغل پر وړاندې پر مبارزه پیل وکړه . د جهاد په هغو کلونوکې چې پاکستاني ملت د افغانانو سره ثابته همکاري کوله تر څو خارجي ښکېلاک ته ماتې ورکړي، د افغانستان او پاکستان ترمینځ د اسلامي وروروله ستر پړاو پیل شو.

د سولې د عالي شورا د مشر په حیث ، هغه د پاکستان له حکومت سره په یو ګډ کمیسیون کې افغانستان ته دسولې او ثبات راوستو لپاره وعده وکړه چې د دریو لسیزو ناخوالې ، ظلم او حملو ته کومې چې د بهرنیو له لاسه افغانستان ته راغلي ، د یوې بین الافغاني پروسې له لارې دپای ټکی ږدي .

د پاکستاني مشرتابه سره د هغه وروستي ملاقت کې ، دواړ ه اړخه دي پریکړې ته ورسېدل چې سوله او ثبات د پاکستان او افغانستان په دننه کې اړیکې درلودې ، نو ددې حیاتي موضوع لپاره باید دوه اړخیزه همکاري پراخې کړو او خپل ګډ اهداف باید تعقیب کړو.

د پروفیسور برهان الدین رباني شهادت د پاکستان لپاره یوه ستره ضایعه ده . د نوموړي په ظالمانه توګه وژنه د هغو قوتونو پر غاړه ده کوم چې په افغانستان او

سیمه کې د سولې سره مخالفت لري . دغه مضر قوتونه د افغانستان او پاکستان دواړو دښمنان دي .

مهمه خبره داده چې د پروفیسور برهان الدین رباني د بې رحمانه شهادت باید په پراخ ډول وڅېړل شي . هغوي چې ددې زشت جرم د ارتکاب او پلانګذاري مسولیت لري ددې اړتیا لیدل کیږي چې د یوې نمونه یي سزا لپاره راکش کړای شي .

د پاکستان او افغانستان دښمنان باید زمونږ د سولې هڅو ته په کم ارزښت ونه ګوري . مونږ به د پروفیسور باني هغه ماموریت ته ادامه ورکوو چې د دواړو ملتونو دسولې ، پرمختګ او نېکبختۍ لار تعقیبوي . زمونږ برخلیکونه سره ګډې ریښې لري او مونږ به خپلو دښمنانو ته ددې اجازه ورنکړو ترڅو زمونږ داینده خرابولي ته ادامه ورکړي .

زه استاد رباني له دریو لسیزو پېژنم کله چې زه شاګرد وم ، د هغو قوتونو پر وړاندې دده هغه هڅې چې دافغانستان د اسلامي پېژندګلوۍ لپاره ګواښ وه په خپل لومړي پړاو کې وې . نوموړي قواوې لا په افغانستان کې نه وې ماتې شوې ، چې پروفیسور برهان الدین ربان يېښور ته جلا وطنه شو او دخپل پاک نیت له امله يې په بریالیتوب سره يې وکړای شول چې خلک پر ځان راټول کړي . هغه د افغانستان د جهاد یو مخ کښ وه .

د شهید رباني وینه به غلې پاتې نه شي. د هغه قرباني به مونږ ته دسولې د هڅو په سرته رسولو او د خرابکارۍ قواو دماتې په ورکولې کې مونږ ته لار ښوونه وکړي .

****************